## دګلو تماشا

تلم د ګلو تما شا ته  راغی مخ ته می یو ګل
له خندا یی خوله ډکه لښته ونه یی د سنبل
بارخوګا ن یی تکه سره د انا ر د ګل په شا ن
د  سری شونډو له ساغر یی راته بوی دسور مُل
هر انظا ر او هر  ادا یی  په زړه مینه  کرله
په  هر نا ز او نزاکت خپل ،هم وژل هم  قتلول
ما د مینی په هوس «مل» درخواست  ورځنی وکړ
هیڅ  ونه کتله  ماته   په  نا ز  وکړ  تغا فل

***

پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل»
جرمنی «2018-09-14»

## ځا ن نیوی نشم

کله چي دی وینم ځا ن  نیوی  نشم
مینه دی  هیڅوخت یا ر  هیروی نشم
ځیر چي راته   وګوري  له  حا له ځم
زه  خو  مخا مخ   تا ته    کتی نشم
کله  چی  پناه  می  له  سترګو  شي
اوښکی له خپل  سترګو  دروی نشم
دا خو تېول د  مینی  انګیزی  دی یا ر
زړه  چي مي  له  تاهیڅ  صبروی نشم
«مل» به ساتي ستا مینه په زړه کی تل
بی  له   تا   خوښی حاصلوی نشم

*** جرمنی «2018-09-22»

## شَکا ر

دبا نو په غبرګو غشو دی شکا ر کړم
په ادا د تورو سترګو دی خپل یا رکړم
د خوبا نو په محفل کی روږده نه اوم
په نخرودی چي پرځان خپل ګرفتارکړم
ستا لیده کاته کی څه سحر او جا دو وه
چي د مینی ابا سین کی دی ګذارکړم
اوس چي نه دی وینم نه لرم قرار
تغافل سره دي هسی یا ر بیما رکړم

*** جرمنی« 19-09-2018»

## نه مړید و

**عجیبه اورین مینه وه بیلتون کی سوځید و**
**یوبل باندی ډیر ګران اوو ، په کتو نه مړیدو**
**چي تا را ته کتله ځما مینه زیا تید له**
**رغبت مو آ تشین وه ، خلوت ته هوسیدو**
**د مینی سپرغی موپه زړګو کی کرځید ل**
**بربنډ لیده ، کاته مو وه په شرم نه پوهیدو**
**د مینی غوټی مو څپریدلی وه په زړونو**
**ځواني او مستي وه سره «مل» نه بیلید و**

**جرمنی ( 22-09-2018» ***

## رخسا ر

رخسا ر می ستا په رنګ د انا ر ولیده
سري شونډی توري سترګی نا غدار می ولیده
وریل دی لنډه کړي تندی کی دی شین خال
په لیچو دی بنګړیو می قطا ر ولیده

سنبل دی وه تومبلی د کوسیو پر سر
په شونډو دی مسکا می په تلوار ولیده
خولی دی په سپین مخ مرغلری ښکا ریده
ما «مل» چي کله ستا مخ په با ربا رولیده
*** جرمنی« 2018-09-13»

## ګونګی

زه مین په هغه صنم یم چي په مخ یی ګونګی کیږم
مخامخ چي را نژدی شی په خولو کی خپل لمديږم
پرهغه چي مي نظر شی عقل ورک می له سرشی
چي له ستر ګومي پناه شي په بیلتون کی یی ځوريږم
دا د مینی نښا نی دي چي قرار یی رانه وړي
چی په غیاب اوپه حضوریی په تصمیم خپل نه پوهیږم
اور د مینی د هغی اوس په زړه کی می بل شوي
چي پر ما دیا ر نظر شی تر تا ثیر لاندی ولویږم
*** جرمنی« 2018-09-07»

## نه خوښيږي

بی مالګي اداګا نی د خوبان می نه خوښيږي
چي مينه اورين نه وی سره لبان می نه خوښيږی
کتو سره چي زړه کی مي شور پیدا نکړی
داهسی بی خونده خندا ګا ن می نه خوښيږی
طواف چي د ګلو په چمن نکړی بلبل
بی ځا یه الوتل د بلبلان می نه خوښيږی
په مینه کی چي سوز اوسا ز له سره نه وي
نازونه په ریا د با زاریان می نه خوښيږی
اغزن باندی ګوره عا شقی کی «مل» مزل دي
چي اورکی ځان نه سوځی پتنګان می نه خوښيږي
***جرمنی« 2018-09-02»